# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

## ۱۴مه ګڼه ۱۹۹۴ کال


## Jahrg./vol:1994/ 8 nummer/ no: 14


## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA




**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN- Paschtunkhwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan**

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion    د خپروني جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسيد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګښ |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپي |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړی |



www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net




سرليکونه او ليکوال — مخ


د پښتنود يووالی په ورځ د پښتنود تولنيزا ولسوليز ګوند دمشر داکتر ستوری وينا — ۱
لوی جرګی لوی چاری جرګه او روغه جوړه — رفيع الله «قاضی خيل» — ۵
دپ يورند دکرښی په مناسبت دعليخان «محسود» وينا — ۹
نوی زړی — خبريال عزيز «سرشار» — ۱۲
دافغانی ښځو ژوند په اوسنی افغانستان کښی — ميرمن عايشه زمانی «ساقی» — ۱۵
خوشول اوخه کول پکاردی — صلاح الدين «قاضی خيل» — ۱۸
دافغانستان حالات اودبشر حقوق — احمد شاه «امين» — ۱۹
مکوه — کبرا «مظهری» — ۲۲
خبرتيا — ۲۳



خپرونکی: دپښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند
پښتونخوا/افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Paschtoonchwa / Afghanistan
Publisher: Pashtoons Social Democratic Party
Pashtoonkhwa / Afghanistan



زمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS
ډوکتور کبير ستوری
DR. KABIR STORI
RICHARD-STR. 5
50389 WESSELING
GERMANY
Tel.: (02236) 83463



Redaktion
Editors Board.    د خپرونی جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Masood | عليخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدايت بنګښ |
| Mabariz Safi | مبارز صافی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |

# د پښتنو دیووالي په ورځ د پښتنو د ټولنیزاولسولیز گوند د مشر ډاکتر ستوري وینا



درنو پښتنو او محترمو میلمنو !
زه تاسو ځخه د پښتنو د ټولنیزاولسولیزگوند په نوم خوښنه کوم زما تاسی ته د زړه له کومې هرکلی وایم اوخوښنه کوم چې خپل کارونه مو پرېښودلي دلته راغلي یاستاو پدې غونډه کښې مو برخه اخستې ده اوسر د دې غونډې په اړوند یوڅو ټکي په گوته کوم.

په نولسمه پېړۍ کښې چې د هند په نیمه وچه کښې د پیرنگیانو حاکمیت ټینگ شواوپه مرکزي اسیا کښې د روسانو د نفوذ د پراخوالي هڅې رواني وې افغانستان د خپل ستراتیژیکي موقیعت له کبله د دغه دواړو ښکیلاکي زواکونو د زور ازمایني ډگر وگرزید. پیرنگیانو د روسانو په مقابل کښې د خپلې امپرا-طورۍ د ژغورلوپه غرض په افغانستان کښې سیاسي اوپوځي لاسوهنه پیل کړه د پیرنگیانو لومړنی یرغل "١٨٣٨ — ١٨٤١" چې ټوله د کابل پاچاهي د خپل کنټرول لاندې راولي د پښتنو د مقاومت له کبله ناکام شو. پدې لومړۍ جگړه کښې د سختې ماتې په نتیجه کښې پیرنگیانوخپل دافغانستان سیاست « دوویشه او حاکمیت وکړه» په ازمایښت شوی



اصولو ودراوه د پیرنگیانو دوهم یرغل ٢٦/٥/١٨٧٩ پای ته ورسید دکوم پواسطه چې پیرنگیانو د افغانستان ختیځې اوجنوب ختیځې برخې چې ستراتیژیکي مهمې وې د خپل کنټرول لاندې راوستې او دافغانستان بهرني او دفاعي سیاست ئې داغیزې لاندې راووست چې بیاوروسته د هغه وخت پاچاامیرعبدالرحمن خان باندې د ډیورنډ ترون «١٢/١١/١٨٩٣» او د ډیورنډ کرښه په زور ومنله او پښتانه ئې په برخو وویشل.

درنو حاضرینو

په ټوله نړۍ کښې پیښې دا په ثبوت رسوي چې دغه شان ترونونه چې د ښکیلاکي مناسباتو د لاندې منځ ته راغلي نن ورځ اعتبار نلري. داولسونو د حقوقو یوه پخه نظریه داده چې یوترون چې اغیزه ئې ختم شوې او د ترون هدف ترلاسه شوی وي داعتباره لویږي، د هند د ښکیلښتي «مستعمرې» ځخه دانگریزانو په وتلو سره په اوتوماتیکه توگه د ډیورنډ ترون داعتباره لویدلی ځکه چې د ترون یو برخه وال چې پیرنگیان وو په هند کښې خپل موجودیت د لاسه ورکړی او پدې توگه ئې هدف هم دمنځه تللی دی.

او بله غټه خبره داده چې پښتنو په عمل کښې دغه



ترون نه دې مراعات کړی بې له پاسپورته یو د بل سره تگ راتگ کوی او خپل کلتوری، جغرافیائی، تاریخی او ملی هویت ئې ساتلی دی چې ددې ټولو په نتیجه کښې سړی ویلی شي چې د ډیورنډ ترون نور اعتبار نلري نو ځکه د پښتنو ټولنیزاولسولیز گوند دا پریکړه وکړه چې دغه ورځ د پښتنو دیوالي ورځ وبولي او د ډیورنډ ترون د تل لپاره داعتباره لویدلی وگڼي. مونږ د ټولو اولسونوڅخه غوښتنه کوو چې د پښتنو د خود ارادیت حق سره مرسته وکړي او د پښتنو د خود ارادیت حق ملاتړ وکړي.

اوس یو څو خبرې د نن غونډې په باره کښې کول غواړم. د پښتنو ټولنیزاولسولیزگوند د میرمنو ټولنې ځخه ډیره خوښنه کوم چې ددې میلې لپاره ئې ډېرې په خپل لگښت سره تیاره کړیده او نه یوازې د پښتنو ټولنیزاولسولیزگوند د میرمنو ټولنې غړو بلکه بېن او کولن شاوخوا کښې تقریباً سلو کورنیو پکې برخه اخستلې ده چې دا غونډه ولمانځل شي. ددې غونډې نورلگښت دگوند د وند وځخه نه پوره کیده نو یوشمیر پښتنو ټوله وکړه او په هغې باندې څه اندازه پوره شوځه به نورملگري ورته ټوله وکړي او هغه نور به هم پوره شي. همدغسې د



ځوانانو د ټولنې (ځوان پښتون) نه خوښنه کوم چې دلته ئې یوه تمثیلي پارچه جوړه کړې ده او هغه به تاسې ته وروسته لدې وښودل شي.

په پای کښې د ټولو درنو میلمنو نه چې دلته راغلي دي همدا راز د ولسمل صاحب ځخه د ایس پې ډي د وسلنگ د مشر اوتو کلوس ځخه او دانگلستان د سفارت د سیاسي څانگې مشر Carne Ross ځخه خوښنه کوم چې زمونږ پدې ماښامې کښې ئې برخه اخستې ده او او دا میله ئې ښکلې کړې ده. نو درنو پښتنو زمونږ گوند چې دا ماښامی تنظیم کړی دی دا ستاسې خپل ماښامی دی او پخپله به ئې لمانځئ تاسې پخپله به میلمه پال یاستی نو هیڅوک ځان بیگانه مه گڼئ دلته ټول کوربانه یاستئ او خپل ماښامی ځنگه چې غواړئ هغسې مخ په وړاندې بوزئ پدې ځای خپلې خبرې پای ته رسوم ستاسې ځخه یو ځل بیا خوښنه.



خان بابا ولي خان



# لوی جرګې، لوی چارې، جرګه او د وغه جوړه

رفیع الله «قاضي خیل»

جرګې او لویې چارې زموږ د ګران هېواد افغانستان په لرغوني منځني او معاصر تاریخ کښې ستر اونه هېرېدونکي مقام لري د تاریخ د اسې مشخصه مرحله به نه وي چې دلته وړي خپل منځي موضوعګاني په جرګو او هغه



ستري ستونزې چې د هېواد په سویه ارزښت ولري د لوی جرګوله خوا نه وي حل شوې.

دلته زه د لرغوني اریائي ټولنې د جرګو په سیستم، یرغږ وري خبري نه کوم او د کنیشکا د عصر په مذهبي جرګو هم څه نه وایم ځکه چې د د غسي لستون پسې د تاریخ ژوروتیاروته ننوتل بیله موضوع ده زه فقط دومره وایم چې اریائیانو یا زموږ پخوانیو نیکونو هم د خپل کور کلي قبیلو او اولسونو کشالې په اولسي جرګو او مرکو سره حلولې د ارامۍ او سولې لپاره ئې لارې هوارولې او اریائیانو د ا د ول کشالو د حل لپاره دوه ډوله جرګې چې یوه ئې د سبهتي او بله ئې د «سها» په نوم یادېږي جوړولې.

زموږ د معاصر افغانستان د برم او ستر تیا په هره مرحله کښې ګوروچې ټولې ستري مسئلې او د هېواد په سویه لوی ستونزې د لوی جرګو او وړو او سیمه ایزې مسائلې په وړو سیمه ایزو جرګو همیشه او تل تر تله حل و فصل شوي دي د مثال په توګه، د پښتنو په تاریخ کښې ستري او لوی جرګې

د میرویس خان نیکه د (۱۷۰۷ع) کال د شار صفا لویه جرګه.

کله چې میرویس نیکه د صفوي عیاشي کورنۍ د استعمارد



د سلطې نه د خپل هېواد د ازادۍ لپاره ملا وتړله او دغه ستونزه ئې د (۱۷۰۹ع) کال د «مانجه» د لوی جرګې د لارې حل کړه.

احمدشاه ابدالي بابا واکمنۍ ته د رسېدو په رابلم د (۱۷۴۷ع) کال د «شیر سرخ» د لوی جرګې د لارې حل کړه.

د انګریزانو سره په جنګ کښې د (۱۸۴۱ع) کال لویه جرګه سردار دوست محمد خان په کابل کښې (۱۸۳۸ع) کال لویه جرګه.

د افغانانو او انګریزانو په دوهم جنګ کښې (۱۸۸۰ع) کال لویه جرګه.

امیر حبیب الله خان په کابل کښې (۱۹۱۵ع) کال د لومړۍ جهاني جنګ پای لویه جرګه.

امیر امان الله خان په کابل کښې د اساسي قانون تصویب لپاره د (۱۹۲۳ع) کال لویه جرګه.

همداراز امیر امان الله خان د ملي مسائلو د حل لپاره (۱۹۲۴–۱۹۲۵–۱۹۲۸ع) کالونو لوی جرګې.

په همدغه شکل جرګې او مرکې اولسونو کښې د پخوانیو او د یرو لرغونو دودونو څخه دي او د یر پخوا څخه ئې زموږ په اولسونو کښې ستر رول لوبولی دی.

د دې لرغوني هېواد د پخوانیو اولسونو مشرانو او خیرخواه سپین ږیرو به تل د ملي او ټولنیزو کړکیچونو د حل لپاره د جرګو او مرکو څخه ګټه اخیسته هغوی به سره راغونډېدل او د مناسبو لاروچارو په پیدا کولو سره به ئې مناسبه لارا او قوانین منځ ته راوړل.

جرګه د اولس د حقوقي قضاوت اساسي ارګان دی چې په هغې کښې د مختلفو مسئلو په باب تماکلي پرېکړې کېږي په زیاتره مواردو



کښې نارینه او ښځې کولای شي جرګې ته راشي او د خپلو حقوقو د دفاع لپاره د جرګې د قانون سره سم خپله دفاعیه ولولي او د قضایاوو په باب نظر څرګند کړي. او یا د عیني شاهدانو په ډول د خپلو ستر ګو لیدلي حال جرګې ته وړاندې کړي او ټول مسایل په ډیموکراتیکه او ازاده فضا کښې حل کړي. لنډه دا چې په افغاني ټولنه کښې د جرګو سیستم لرغوني موجودیت لري د پښتنو لې د اصولو او مقرراتو په چوکاټ کښې د جګړو، شخړو او کشالو هوارولو کښې مرسته کړې او د الرغوني دود او رواج په خپل قوت په افغاني پښتني ټولنه کښې پاتې دی. حتی د نادرشاه کورنۍ د ملي ستونزو د حل لپاره لوی جرګې رابللې دغه سپېڅلې عنعنه ئې پاللې لکه د محمد ظاهرشاه (۱۹۴۹ع) کال او د سردار محمد داؤد د (۱۹۷۷ع) کال لوی جرګې او د روسانو د یکتاتور لاسپوڅي ګوډاګي کمونستي رژیم د ببرک کارمل او ډاکتر نجیب په وخت کښې تش په نامه جرګې جوړې کړې او دغه عنعنه ئې تشریفاً هم پاللې ده. مګر له بده مرغه افراطي ملایانو چې قدرت ونیوه نو لویه جرګه ئې د اهل حل عقد د شورا په نوم تبدیله کړه او افراطي ملایانو جرګې او مرکې لغوه کړې.

افراطي ملایان د ډیموکراسۍ، ازادۍ، پرمختګ او ترقۍ ضد دي حکومت نشي کولای او په خپل اسلامي افراط کښې غرق دي او فقط دا کلمه وائي چې اسلام په زور راغلی دی نو لنډه دا چې د افغانستان اینده ملایان نه شي تعینولی او د افغانستان راتلونکې به د ډیموکراتیک قوتونه ټاکي چې د دغه ډیموکراتیکو قوتونو څخه یو هم د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند دی چې د ډیموکراسۍ په بنسټ ولاړ دی.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د داسې ټولنې د جوړېدو هڅه کوي چې د ټولنې کلتوري، سیاسي او اقتصادي ژوند پکې برخه



واخلي او په هغې کښې ازادي، عدالت، ورورولي، او ډیموکراسي تامین وي.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند هرنوع د یکتاتوري مطلق ټولواک یو ګوندیز حاکمیت نه مني ځکه چې د انسانانو حقوق او ازادي له منځه وړي.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند ملي واکمنۍ ته د رسېدو لار د لوی جرګو او د انتخاباتو لاره په پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند کښې جرګې په لاندې ډول دي

۱ . سوبائي (ایالتي) یعنې سیمه ایزه جرګه

۲ . ملي (قومي) جرګه

۳ . د مشرانو جرګه

چې سوبائي (ایالتي) جرګه د خپلو غړو څخه د سیمې (سوبائي /ایالتي) حکومتونه او ملي جرګه به د خپلو غړو څخه مرکزي حکومت ټاکي، د مشرانو جرګه د سیمو د حکومتونو د مشرانو او د هرې سیمې (سوبې /ایالت) د وګړو په حساب د ټاکل شوو نماینده ګانو څخه جوړېږي، د ملي او سیمه ایزو جرګو په پرېکړو به غور کوي او جمهور رئیس به ټاکي او د تائید لپاره به لویه جرګه راغواړي.

نو ټولو ځوانانو وظیفه داده چې د تبلیغ او ترویج د لارې د ازادۍ او ډیموکراسۍ د پاره کار وکړي د هېواد د راتلونکي او سرنوشت ځوانانو تاسو پورې اړه لري، خپل ټول توان او استعداد په کار واچوئ او سیاسي شخصیت ته وده ورکړئ او د بنسټپال ملائي رژیم د لېرې کولو او د سولې ډیموکراسۍ او ازادۍ لپاره خپلو هلو ځلو او مبارزې ته دوام ورکړئ.

| |
|---|
| هغه ښکلې ده نازکه ده خوږه ده<br>زه پښتون یم زما مینه پښتنه ده<br>اجمل خټک |

# د ډیورنډ د کرښې پک مناسبت

## د علي خان محسود وينا

تاسو ته معلومه ده چې د نن نه سل کاله مخوا برطانوی حکومت زمونږ خوږ هیواد افغانستان تقسیم کړی وو، په دې وخت کښې زمونږ امیر عبدالرحمن خان د پیرنګی د لاس نا ست وو، افغان ملت امیر عبدالرحمن نه وو کښینولی، بلکې پیرنګي پخپله د دې لپاره کښینولی وو چې یو وخت به د دوی په کار شي، خوا ختیار هله د رکوو چې ته د ګنډمک معاهده مخ په وراندې بوزی او د افغانستان تقسیم ومنې، سردار ایوب خان فاتح میوند د وخت پیرنګانو مهاجر کړ او په راولپنډی کښې ورته کښیناوه نو د ډیورنډ



کرښه د اهیڅ بین المللي او قومي جواز نلری د غه کرښه د پښتنو په وجود باندې داسې د ځکه په وجود باندې چې سرې شل شي زمونږ پښې په پېښور کښې دي او سر مو په کابل کښې دي نه مو سر کار کوی او نه مو پښې کار کوی تر څو پورې چې د غه کرښه زمونږ په وجود وی په مرکزی اسیا کښې امن نه شي راتلای، تاسو ته به بهتره معلومه وی په مرکزی اسیا کښې او د اسیا په زړه کښې پښتون یا افغان هغه واحد قوم دی چې د لته ستيبليټيټ راوستی شي، د لته قراری راوستی شي، نو تر څو پورې چې پښتون بې کوره دی د لته نه تاجک



حکومت کولی شي نه ازبک حکومت کولی شي او نه د پنجابی، ایرانی، سعودی عرب ایجنټان په افغانستان کښې حکومت کولی شي نن په افغانستان کښې د غه بد بختی ده چې پښتون بې کوره شوی دی، د پرون پورې چې د لته د ظاهرشاه حکومت وو په دې منطقه کښې امن وو پښتون وو پښتون ئې سرته ولاړ وو. خو بیا چې دا د شور بد بختی راغله نو د اخلك د افغان ملت په طبیعت باندې پوهه نه وو نو ځکه د دې بد بختی سره مخامخ شوو چې زمونږ لوی دوست ئې ځان ګڼلو د دوستی په جامه کښې ئې زمونږ په وطن باندې قبضه وکړه، افغانان به دوستان هم دی خو دوست چې په خپل کور کښې افغان ته لار ښيی نو افغانان هم لار ورته ښودلی شي. هغه نتیجه دا شوه چې نن په نړۍ کښې تاسې ته معلومه ده چې د ری کاله پخوا هم د اخبره ماکړې وه چې د اکیمونیزم په د منځه ځی، نن کمونیزم د منځه لاړ نن یورپ یو کیږی نن المان یو شو د برلین دیوال په هند وکش کښې د افغانانو په وینو مات شو. مونږ سره برطانی دری جنګونه وکړل او اخری خپیړه غازی امان الله خان ورکړه.

تاسو ته ولو ته معلومه ده چې په نړۍ کښې افغانستان اول هیواد دی چې د یورپ د کالونیالیزم څخه ئې ځان ازاد کړو چې په نړۍ کښې هیڅ کوم ملک ځان نه دی ازاد کړی واحد افغانستان دی چې پیرنګی ته ئې څپیړه ورکړه او په خپله جزیره ئې ننه ایستو، د روسانو سرنوشت هم تاسو ته معلوم دی چې د خپل سره فوځ سره ئې د خپل کور په دروازه د ننه کړه پښتون چې



چا سره د غره وهلی ده نو سر ئې ورته مات کړيدی.

کمونیزم د منځه لاړ او لینن د خپل قبر څخه وکا زی او وائی چې لیری ئې کړی لدی ځایه، دا د افغانستان د ماشومانو د وینو برکت دی دا د هغه یتیمانو وینه ده چې په ناحقه ئې په افغانستان کښې تو یه کړه او س د مغرب دروازه کښې ناست دی سوالونه کوی مونږ ئې هم د ریه د رکړو ځان ئې هم د ریه د رکړ. او س زه هم دا وايم که امریکا وی او که نور قوتونه وی که دوی ستيبليټيټ غواړی د دوی په اسیا کښې امن غواړی، د اسیا لوی قوم پښتون دی دا دی د خپل ملك خاوند شي، د پښتون د خیتې څخه دی دا کرښه لیری شي، نو پښتون چې د لته په پښو ودریده په دې اسیا کښې دا زبك ژوند به ښه شي د تاجك ژوند به ښه شي، د هزاره ژوند به ښه شي، پښتون هیڅکله متعصب ندی که پښتون متعصب وای نن به د پښتون په خیټه کښې دا واړه واړه قومونه په ژبني، او کلتوری توګه توکړه شوی وای او د هیڅ هویت خاوندان به نه وای لیکن تاسی ګورئ چې ټولو وروا قلیتونو په افغانستان کښې د خپل مشر ورور پښتون په څنګ کښې د وروولی په فضا کښې شپې ورځې تیری کړی دی او ټولو په شریکه د افغانستان د بنیاد ی اباد ولو لپاره خپلی د ندی سرته رسولی دی او د پردیو د ظلم په مقابل کښې ئې په یوه اواز سره ناره پورته کړی ده.

د هدف د پاره اری کوری خود اری د پاره هدف مه بدلوی.

"ستوری"



# لنډې زېرې

## خبریال عزیز سرشار"

جرمنی: د پښتنو ټولنیزا و لسولیز ګوند د مشرانو جرګې تاکنه روانه ده د ګوند د منشور سره سم لویری د ګوند د مشر تاکنه و شوه د وکتور کبیر ستوری سل په سلو کښې موافقی رای ګټلی دی. اود ښه غوکا لونو لپاره بیا د ګوند مشر تاکل شوی دی همداشان: په امریکا، سویس، ناروی، چکوسلواکیا، او بلجیم کښې د ګوند د مشرانو جرګې د نورو غړو ټاکی شوی دی. په امریکا کښې ښاغلی لیاقت وطنیال د ګوند د ریهمرستیال د دندی لپاره ټاکل شوی دی، په ناروی کښې ښاغلی محمد نادر سرشار، په سویس کښې ښاغلی محمد رفیق مومند په بلجیم کښې ښاغلی رحمن بریالی او په چکوسلواکیا کښې ښاغلی میرافضل طاقت د ګوند د مشرانو جرګې د غړو په توګه ټاکل شوی دی.

په جرمنی کښې د مشرانو جرګې لپاره د لاندې کاندیدانو سپارښت لیکونه رارسیدلی دی: ښاغلی علیخان محسود د ګوند لویری (مشر) مرستیال د دندی ته، ښاغلی محمد شیرین ګرد یوال د د وهم مرستیال د دندی ته، ښاغلی هدایت الله خان بنګش د لوی منشی (جنرل سیکرټری) د دندی ته، ښاغلی خان محمد مبارز صافی د کورنیو چارو منشی د دندی ته، د اکټر شیر افضل ګرد یوال او ښاغلی غلام رسول همت د بهرنیو چارو منشی د دندی ته، ښاغلی عزیز الرحمن سرشار د خپرونو چارو مشر د دندی ته، د وکتور د ګروال حضرت رسول د مالی چارو او ننګیالی پښتون (یونس) چارو مشر د دندی ته، ښاغلی محمد اجان بهار د کلتوری چارو مشر د دندی ته، د پهلوم انجنیر حبیب رسول د پوهنیزو چارو د مشر د ندی ته، د اکټر صابر د سیاسی چارو د مشر د ندی ته، میرمن عایشه ساقی زمانی. د ټولنیزو چارو د مشری د دندی ته، ښاغلی فضل الرحمن شیر د ګوند د مشر سلاکار د دندی ته، ښاغلی عطا محمد شیرزی د ګوند د سلاکار د دندی ته، د اکټر عبدالله عزیز د ګوند د سلاکار د دندی ته، ښاغلی عبد الجلیل خان د ګوند د سلاکار د دندی ته، ښاغلی نصیرخان د ګوند د سلاکار د دندی ته، ښاغلی احمد غوث شیرزاد مزمانی د ګوند سلاکار د دندی ته، ښاغلی سید علیشاه د ګوند سلاکار دندی ته، ښاغلی سید محمد عارف د ګوند سلاکار د دندی ته.

سوات: د روند مشر خان لالا محمد افضل خان وویل:



یو پښتون قوم، د یو نیکه اولاده په یوه ځمکه پروت توکړی توکړی ساتل اخلاقی، قانونی او مذهبی جواز نلری. دا کار د نړیوال قانون او د بشری حقوقو خلاف ده.

وییلینګ: د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند د مشرانو د جرګې د ۲ جولای ۱۹۹٤ نیټې په غونډه کښې د قومي مشر ملک نادر خان اپریدی (زخه خیل) روح ته د قران شریف د تلاوت وروسته دوعا وکړه.

ملک نادرخان اپریدی (زخه خیل) د روان کال د جون د میاشتې په ۱۳ نیټه د اسلام اباد څخه پیښور ته روان وو په لاره کښې حسن ابدال ته نژدې د موټر په ټکر کښې وفات شو د ملک نادرخان اپریدی مړی د جون د میاشتې په څوارلسمه نیټه په لوارګي کښې د ده په پلرنۍ هدیره کښې خاورو ته وسپارل شو.

ملک نادرخان اپریدی د فخر افغان



اروا ښاد باچاخان د لارې ملګری او خدائي خدمتګار وو او د قام او وطن د ابادۍ او سوکالۍ د پاره ئې نه هیریدونکې خدمتونه کړي دي.

د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند د خدای بخښلي ملک نادرخان اپریدی (زخه خیل) مرګ د ټولو پښتنو لپاره یو لوی تاوان ګڼي او د اروا ښاد د کورنۍ سره د زړه له تله خواخوږي ښکاره کوي.

| |
|---|
| هره ښځه د رخانۍ ده که میره ئې ادم خان شي |



د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند
د ټاکنې جرګه

نیټه: ۳ سپتمبر ۱۹۹٤

## د ګوند د مشر د ټاکنې نتیجه

د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند د مشر ټاکنه د ګوند د غړو په پټو او سیده رایو سره په لیکلې توګه په ۱۹۹٤/۹/۳ ع نیټه سرته ورسیده.

په ټاکنه کښې په سلو کښې (۹۵) پنځه نوي و ټ ورکوونکو برخه اخستې ده.

د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند د مشر د دندې کاندید ډاکټر کبیر ستوري په سلو کښې (۱۰۰) سل موافقې رایې ګټلې دي د ګوند د منشور سره سم دی د پښتنو د ټولنیزا ولسولیز ګوند د مشر په توګه د پنځو کالونو لپاره وټاکل شو او د ګوند قانوني مشر ګڼل کیږي.

د ټاکنې جرګې د غړو لاسلیکونه

۱ حاجي فضل الرحمن شیر
۲ محمد شیرین ګردیوال
۳ ډاکټر د ګروال حضرت رسول
٤ هدایت الله خان بنګښ
۵ دیپلوم انجنیر حبیب رسول



# د افغاني ښځو ژوند په اوسني افغانستان کښې

## میرمن عایشه زماني ساقي

په اوسني وخت وزمان کښې د افغاني ښځو ټولنیز (اجتماعي) ژوند ته یوه لنډه کتنه.

څرنګه چې افغاني ښځې د ژوند د کړکیچونو او کړاونو سره مخ دي او نن ورځ په افغاني ټولنه کښې د ښځو حقوق لاسپی نور هم تر کول شوي دي او تر کول کیږي ښځې د کورونو د لویو د نګو د یوالونو شاته قلا بندي شوي دي



او خصوصاً روښان فکره ښځې د پوهنتونو، پوهنځیو، ښوونځیو او لیسو په چاپیریال کښې د پرمنه لید ل کیږي او د پوهنې د پروګرامونو څخه شاته غورځول شوي دي.

ښځو ته په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، او مدني برخو کښې پوره حقوق نه دي ورکړ شوي.

او د اسلامي بنسټپالو د بنګیلاک د پنجو لاندې تل زبیښاک شوي او زبیښاک کیږي او د ملا صاحبانو له خوا ورته "ناقص العقله" ویل شویدي او د هریوه په خوله ئې د امتل دی چې "ښځه یا په کور ده یا په ګور" او افغاني ښځې د پلا رواکي د پروید بختیو سره لاس په ګریوان دي نن سبا افغاني میرمنې (ښځې) د اسلامي بنسټپالو د لوی غوښتنې او د چوکۍ پرستۍ د سیا لۍ په ډګر کښې د د رنو راکټونو د بمبارۍ قرباني شوي دي.

نو په دې ټولنه کښې انساني کرامت تر پښو لاندې شوی دی مونږ هغه روښان فکره ښځې چې په اروپا



امریکا استرالیا او یا نورو پرمختللو هیوادونو کښې چې یو بایدپه دغه سوکالۍ کښې ځانونه ورک نه کړو او د افغانستان د مظلومو ښځو د حق یادونه او غوښتنه وکړو او په اوسني حالت کښې هغه غم ځپلو افغاني ښځو ته د مرستې لاسونه اوږده کړو او د نړۍ د ټولو روښانفکره ښځو څخه داغوښتنه کوو چې دوی د افغاني مظلومو ښځو سره لاسونه یو کړي او د دوی د حق پلوي وکړي.

## پیغلوټے

### شاعره عایشه زماني ساقي

ای د کونړ د سیلا بونو پیغلې
ای د سالنګ د طوفانونو پیغلې
ای د امو د ګډ رونو پیغلې
ای د هلمند د غورځنګونو پیغلې
رنګ دې الوتی په تا څه شوي دي

———

جوړه نا روغه ئې دوانه د ررسي
په کال کښې یو وار پشوروانه د ررسي
ای د دردونو د رنځونو پیغلې
رنګ دې الوتی په تا څه شوي دي
ستا د جسو سترګو رڼا ورکه ده
د پټې خولې نه دې خندا ورکه ده

———

دا بد ایان د اعیاشان دي خوري
چې د ما ښیو خاوندان دي خوري
دا خود خلکو ښمنان دي خوري
چې تمام عمرئې حرام خوړلي

د راډیو غږ دی او ریدلی ندی
او په موټر کښی چیری ناست نه ئی
بشر دی و خوت تر مریخه پوری
ای د دردونو د رنځونو پیغلـــی
رنګ دی الوتی پټا خمشوی دی
ای د کونړ د سیلابونـــو پیغلـــی

---

خیر دی اوس به دی اوده کړم د خیالونو په ځانګوکښی
لوړ خیالونه نه ورکیږی د ژوندون تورو تیارو کښی
چی د غم په کاله غمشی خوشحالی مونږ کره راشی
د وحدت ګلونه ګل شی او ازاده پښتونخوا شی
بیا به تازه ګرزومه د کونړ په سرد رو کښی
ته زما به میلمنه ئی د خوشحال بابا حجرو کښی
هری شپی پسی ورځ شته دی دغه شپه به هم سبا شی
سباوون ته وخت ډیر ندی دا تیاری به ژر رڼا شی
بیا به ټنګ ټکور وهمه د رحمان بابا د ډیرو کښی
د سبا ستوری رڼا کښی د پښتو ملی نغموکښی
ستوری

**پښتو به وایو پښتو به لولو**
**پښتو به لیکو**



## څه وشول او څه کول په کار دي

صلاح الدین "قاضي خیل"

د افغانستان جګړه په لومړیو کښی د روسی ښکیلاک په ضد وه خو جګړی د روسانو د تللو وروسته په ډیری بی رحمی سره زور ومونده او په لنډ وخت کښی په لسګونو زره بی ګناه



افغانان تباه او نور په سلګونو زرو بی وطنه شول. نو که چیری دا جګړه ژر تر ژره پای ته ونه رسیږی نو ګران هیواد افغانستان به د خولسیزو لپاره د حکومت جوګه نوی مونږ افغانان بله لاره او چاره نلرو پرته له دی څخه چی سره کښینو او د سولی بیرغ جګ کړو. د افراطی ګوندونو مشران د خپلو ذاتی ګټو په خاطر دی ته تیار ندی چی یو د بل سره سوله وکړی پداسی د یکتا توری کښی یوا ځی مشرد څو یلو حق لری د ډیرو ولګوندونو ته خلک یوه ښیری ګوند ویلی شی. ښکاره خبره ده چی په دغو ګوندونو کښی داسی کسان هم شته چی سوله غواړی او په خوله ئی ویلی نه شی. له دی کبله ښکاره ده چی ټول هغه ملی او دیموکراتیک قوتونه او سوله غوښتونکی قوتونه چی سوله غواړی په یوه متحده جبهه کښی راټول شی او په افغانستان کښی د سولی، ارامی، او سوکالۍ لپاره ملا وتړی همداراز:

۱- د ټولو خواو څخه دی د رندی وسلی راغونډی شی ترڅو چی په ګران هیواد کښی لومړی سوله راشی انسان وژنه او ورور وژنه بنده شی
۲ - د ملګرو ملتو د نظارت لاندی دی د قدرت واګی بی پلوه او ملی کسانو ته وسپارل شی.
۳ - بهرنی لاسوهنه دی سمدستی بنده کړی شی، افغانان دی پریږدی چی خپل راتلونکی په خپله وټاکی.
٤ - د ډیرو ګوندیزو ازادو انتخاباتو لپاره دی لاره هواره کړی شی.

## د افغانستان حالات او د بشر حقوق



احمد شاه "امین"

ټولو هیوادوالو ته دا جوته ده چی په افغانستان باندی د بهرنیو خارجی یرغلګرو یرغلونه راوړی دی او یا په کښی کوچنی کورنی جګړی پیدا شوی دی چی د همیشه لپاره زړورو افغانانو د یرغلګرو یرغلونه په شا تمبولی دی او دی ته ئی ندی پریښی چی په افغانستان او افغانانو باندی دا اوږدی مودی لپاره



حکومت وکړی او یا افغانان د هغوی د باداری د تاثیر لاندی راشی او هم ئی خپلی کورنی جګړی اوارو د ور په خپلو کښی سره د لویو جرګو او یا عالمانو سپین ږیرو او د ټولو قشرونو نمایندګانو په واسطه په خپلو کښی سره حل او فیصله کړی دی چی له همدی کبله لویه جرګه او یا د مشرانو پریکړی او فیصلی د افغانانو په تاریخ کښی ستر رول او ځانته ډیر عالی ځای لری خو په ځواشینی سره باید وویل شی چی دغه پنځلس کلنه جګړه چی اوس زمونږ په وطن کښی روانه ده په ټول ملک کښی ئی اور بل کړی دی او داسی اور چی د انسانانو څخه تری داور د لرګیو استفاده کیږی، بی ګناه خلک وژل کیږی او یا ژوندی ورکیږی انسانان بی له کوم جرم او ګناه څخه په زندانونو کښی اچول کیږی، د خلکو مال او دارائی چور کول لا په دی شرایطو کښی یوه عادی مسئله ده او بلاخره د انسانانو ټول هغه بشری او دیموکراتیکه حقوق چی د نړی بشری او دیموکراتیکو قوانینو له خوا انسانانو ته ورکړی شوی دی تر پښو لاندی کیږی. خو د افغانستان پیاوړی او غیرتی اولس د خپل وطن د دفاع په خاطر خپله ملا وتړله او د روسانو



د ناروا تیری په مقابل کښی قیام وکړ د افغان غیرتی اولس د مقاومت او سر ښندنی په نتیجه کښی د روس سرو قطعاتو ماتی وخوړه او د هغوی امپراطوری تر ابده پوری په ټوله نړی کښی پای ته ورسیده او هم د کمونیزم ریښی ئی د ټولی نړی له بیخ نه وویستلی او ټوله نړی ئی د سره ښامار د منګلو څخه وژغورله. ولی پدی باید هم سترګی پټی نکړو چی اوس زمونږ په هیواد یعنی وروسته د روسانو د تللو څخه څه تیر شول او څه تیریږی؟ روسان ولاړل افغانستان ازاد شول ولی اوس څه خبره ده چی افغانان په خپلو کښی سره جنګیږی؟ د کابل ښکلی ښار د جګړو ګرد وګرځید کورونه وران شول، د خلکو مال تالا شو، د دولتی ټولی موسسی او دفترونه چور شول د فابریکو پرزی او ماشینونه د زړو اوسپنو په ځای د ګاونډی هیوادونو په بازارونو کښی خرڅ شول د افغانستان ملی موزیم چی ډیر پیری مودی سابقی او قیمتی اثار لرونکی وو تالا او د هغی ټول تاریخی او قیمتی اثار د خارجی هیوادونو په بازارونو کښی خرڅ شول چی پدی کښی د فوندامینتالستی رهبری او خصوصاً د وخت زمامدار ربانی او احمد شاه مسعود اشتراک او مستقیمه لاښونه موجود ده. د تعجب او د تاسف خبره خو لا دا ده چی هر ګروپ او هر تنظیم بیدون د کومی محکمی او قانونی پریکړی څخه انسانان په بیوا و بل نامه په رڼا ورځ په دار او ځړول ډیر روښانفکران او تعلیمیافته انسانان محبسونو کښی واچول شول، ښځی د دولتی موسساتو څخه وشړل شوی او د هغوی ټول انسانی حقوق صلب شول، د نجونو مکتبونه تړابند وتړل شول، او د پوهنتونونو او ښونځیو دروازی بندی شوی. په هیواد کښی د مجاهدینو د زمامداری په اوسنی وخت کښی د خلکو او ملتونو په منځ کښی نژادی، ژبنی، او سیمه ایز تعصبات او دښمنی ګانی

راپیدااوهغوی‌ته‌سازمان‌ورکړل‌شو چی داټول‌موضوعات
تراسه هیڅ‌افغان‌نه پیژندل‌اونه داسوال‌د هغوی‌سرمطرح
وو، او په افغانستان‌کښی‌تراوسه پوری‌ټولو میشته و، ملتونو
په خپل‌منځ‌کښی په سوله ایزه ارامی او ورورولی په فضا کښی
ژوند کاوه چی داټول‌موضوعات‌دغه بنیاد‌ګرود خپل‌خواهی اوقدرت
پاتی‌کیدواویاهغی‌ته درسید وپه‌خاطررامنځ‌ته کړل او
دافغانستان‌د جنګ ځپلی اومظلوم اولس‌امیدونه ارزوګانی
اوهم‌ئی‌وطن‌د خاورو سره خاوری کړ. اوس دغم‌لړلی
افغانستان‌بیچاره و خلکوته یوه لاره دامید پاتی‌ده‌چی
هغه‌د ملګرو‌ملتونوهمه جانبه اوبی‌غرضه مداخله
ده چی‌پدی‌موضوع کښی مستقیم‌د خالت وکړی‌ترڅوپه‌ګران
هیواد افغانستان کښی دلوی جرګی
پواسطه یوپارلمانی‌اوځوګوندیزه حکومت دعالمانو، سیاسی
شخصیتونو، روښانفکرانو، اود وطن‌د ټولوقشرونود نمایندګانو
اومشرانوپه‌ګډون دملګروملتوترجدی‌نظارت لاندی‌منځ‌ته را
شی چی‌په هغی‌کښی دافغانستان‌د ټولو اتباعو حقوق
اوازادی‌ګانی خوندی‌پاتی شی
دافغانستان‌ټول‌خلك اوس‌په ګډه سره یوارمان او ارزو
لری چی هغه په وطن‌کښی دسولی‌تامینیدل اود جنګ
پای‌ته رسیدل‌دی ترڅوافغانان‌خپل‌وران‌شوی‌کورپه شریکه
سره بیرته ابادکړی اوپدی‌لوی‌کور
کښی‌سرمپه شریکه اودورورولی په فضا کښی‌ژوند وکړی
چی هغه مقدس‌کور دټولو افغانانو ښکلی
او سرسبزه افغانستان دی.

| |
|---|
| که توفیق داتفاق پښتانه مومی<br>زوړ خوشحال به شی په داخبره ځوان<br>خوشحال بابا |



کبرا مظهری

# مکوه

پښتنی خوری نور فیشن رقم‌رقم مه کوه
خپل تهذیب وساته پیښی دنور عالم مه‌کوه
ته پښتنه ئی‌زمانه خوی دملالی غواړی
سیرت دی ښکلی کړه‌د تش صورت هیڅ‌غم مه‌کوه
تاته ساتل‌د پښتنې‌تهذیب‌پکار دی خوری
له پښتنوالی نه بهرکارونه هم مه کوه
دماغ صیقل په معرفت‌کړه ناپوهی بد ده
زیاتی کارونه په ټوټکو تاویز او دم مه کوه
داجتماع سمون‌په تاسی‌ته مسؤله ښکاری
ځان‌منورکړه نور په ځان‌باندی ستم‌مه کوه
اولاد دی روزه چه قومی ژوندون‌سمون‌پیداکړی
قوم‌د رته ګوری پښتنه ئی دبل‌چم‌مه کوه
تهذیب دی خپل‌کړه او کمال واخله لفوروځنی
یوازی غم دمینی‌ژوب او هفت قلم‌مه کوه
دپښتون‌لوری‌د «کبرا» درنه ارزو دغه ده
چی له پښتوځنی بهر کارونو زغم مه‌کوه

| |
|---|
| تاته ئی داسی حسن درکوچی دنیاخپلوی<br>ماته ئی مینه په زړګی کښی فقط‌ستاراکړه<br>اجمل ختک |



# خبرتیا

## دپښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند

دپښتنو دیووالی ورځ (۱۲ نومبر ۱۹۹٤) د
کلن په ښار کښی لمانځی هیله ده‌چی پدے
ورځ کښی ګڼ شمیر مینه وال ګډون وکړی.
اوپدی توګه د پښتنو دیووالی اوخپلواکی
په لاره کښی اوچت ګامونه واخلی.

دغونډی وخت: د ماښام (۱۹) بجی
پته «درک»:

Engelhof
Oberstraße. 96
501149 Köln (Porz)
G E R M A N Y.

درست پښتون له قندهاره تراټکه
سره یو دننګ په کار یو اواشکار




که سپوره وی که پوره وی به شریکه به وی
(باچاخان)

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*